## مطبوعاتي اعلامیه

# خلافت به د خصوصي ښوونځیو د فیسونو ناورین پای ته ورسوي او په لوړ معیار به وړیا زده کړو ته لاره هواره کړي

له تېرو څو کلونو راهیسې د ښوونځیو د فیسونو مسلسل ډېروالی د بحث وړ دی. دغو فیسونو د اوسني بې ثباته اقتصادي حالت له امله والدین او نور عایداتي ګروپونه د پیسو په ورکولو کې له ستونزو سره لاس او ګرېوان کړي دي. دا حالت د کرونا ویروس د ناروغۍ په خپرېدو سره نور هم کړکېچن شوی دی.

اوس دا ډېر معمول ده چې والدین ان له تخفیف سربېره هم نه شي کولی د خصوصي ښوونځیو فیسونه ورکړي، دوی د فیسونو د نه ورکولو له امله د خپلو ماشومانو سپکاوی زغمي، چې له ښوونځیو څخه وایستل شي. دغه راز دوی باید خپل ماشومان ارزانه ښوونځیو ته ولېږي یا پرېکړه وکړي چې یو یا ډېر ماشومان یې دولتي مکتبونو ته واستوي، ډېری کاروبارونه له سقوط سره مخ شوي دي. د نورو ټولو سوداګریو په څېر، ډېری خصوصي ښوونځي هم اغیزمن شوي دي. د خصوصي ښوونځیو لوی ګروپونه چې بډایه خلکو ته تدریس کوي په انلاین بڼه ترسره کېږي، خو لا هم د بشپړ فیس د اخیستلو غوښتنه کوي، په داسې حال کې چې ډېری کوچني خصوصي ښوونځي اوس د سقوط په حال کې دي. د فیسونو د بېرته تر لاسه کولو توان نه لري، د والدینو او خصوصي ښوونځیو مالکینو دواړو له خوا حالت تنګ شوی دی. له وړاندې داسې بریښي چې اوږدمهاله کړکېچ به له قناعت وړ پایلو پرته دوام وکړي، چې د ټولو اړوندو خلکو عدالت تضمین کړي.

### اې د پاکستان مسلمانانو!

خصوصي ښوونځي یوه ګران بیه اړتیا ده، چې د دولتي ښوونځیو د ناوړه حالت له امله رامنځته شوي دي. د بې وزله ښوونکو، د زده کوونکو له بېروبار څخه ډکو ټولګیو او لږو اسانتیاوو له امله یې نوم بد دی. اوسنی نظام د دولتي زده کړو په چمتو کولو کې پاتې راغلی دی. که چېرته موږ د پاکستان تر ټولو ډېر نفوس لرونکي ایالت، پنجاب ته وګورو، هلته له ۵۰ زرو ډېر خصوصي ښوونځي شته. ښوونې او روزنې ته د دولت نه پاملرنه د پر له پسې نامشروع حکومتونو له امله ده، چې د غرب او ښکېلاکګرو مالي سازمانونو غلامان دي. حکومت د بودیجې یو په درېیمه برخه د سود په ورکولو لګوي، چې اسلام منع کړې دي. د خپلو وګړو د اسانتیاوو د پوره کولو لپاره لږ عاید پرېږدي، چې په دې کې د لومړنۍ او ثانوي کچو وړیا ښوونه او روزنه هم شامله ده.

دا د اسلامي دولت مسوولیت دی چې هر فرد ته هغه موضوعات تدریس کړي، چې د نارینه او ښځینه وو لپاره اړین بلل کېږي. دا په دې مانا چې په اوسني عصر کې لومړنۍ او ثانوي زده کړې باید وړیا ورکړل شي، په داسې حال کې چې لوړې زده کړې څومره چې امکان ولري باید وړیا وي. اشخاصو ته هغه څه تدریس کېږي چې په عادي ژوند کې دوی ورته اړتیا لري، ځکه چې په دې سره ګټه تر لاسه کېږي او له زیان څخه مخنیوی کېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم  له هغو کفارو څخه چې ورسره زندانیان وو، د جبران لپاره یې پر هغوی باندې د لسو مسلمانو ماشومانو تدریس لازم کړی و. د هغه صلی الله علیه وسلم اعمال د تعلیم ارزښت ښیي او هغه صلی الله علیه وسلم د دغه تعلیم لپاره هېڅ کوم امتیاز نه اخیست.

خلافت د ښوونې او روزنې د یوې اسانتیا په توګه د دې پر ځای چې په خپل مسوولیت کې غفلت وکړي او بیا خصوصي ښوونځي د مافیا په توګه تورن کړي، د سوداګرۍ په بڼه یې تدریس کوي. دغه راز د پېړیو لپاره یې په لوړو معیارونو وړیا زده کړې چمتو کړې او د اوسني عصر د ریاضیاتو، علومو، هنرونو، انجنیرۍ او درملو اساس یې اېښی دی. یوازې د نبوت پر منهج د خلافت بیا راتګ به دا تضمین کړي، چې زموږ ماشومانو ته به داسې ښوونه او روزنه ورکول کېږي، چې دونیا او اخرت یې تضمین کړي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَاراً وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ﴾**[تحریم: ٦]

***ژباړه:*** *«اې مومنانو! خپل ځانونه، خپل اولاد او کورنۍ له هغه اور څخه وژغورئ چې د سون توکي به یې انسانان او تیږې وي.*

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ.ق، د ذي القعدې ۲۲مه**

**۲۰۲۰م ، د جولای ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۸۰/ ۱۴۴۱**